AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد عارف رسولي ۲۰۱۹/۰۲/۲۴

# د لاجوردو ترانزيتي دهليز،

## اقتصادي، جيوستراتيژيک او جيوپوليتيک اهميت

## څلورمه برخه

### د لاجوردو لارې او اقتصادی دهليز په مسير کې ستراتيژيکي سيالی:

د لاجوردو دهليز شريکان له افغانستانه پيل، ترکمنستان، آذربايجان، گورجستان او د ترکيې هېوادونه دي. زموږ گانډی هېواد ترکمنستان چې د لاجوردو په دهليز کې شريک هېواد دی، اقتصاد يې د گازو په صادرولو تکيه و خو د صادرولو په سمه لاره پسې لا لهانده دی. له روسانو سره په بيه جوړ نشو، ايرانيانو هم په وخت د گازو قيمت په وخت نشوی ورکولای، اوس يې يوازې چين ته صادروي او له ازبکستان او قذاقستان څخه يې نل ليکې تيرېږي، غوښتل يې چې پراختيا ورکړی خو له يو شمېر تخنيکی ستونزو سره يې کار مخ شوی، نو غواړي د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته خپل گاز صادر کړي چې تاپي پروژه يې بولو او دا هم وخت غواړي.
نو اوس ترکمنستان د گاز په صنعت کې له ننگونو سره مخ دی او بل غواړي خپل اقتصاد ته تنوع ورکړي او خپله تکيه د غازو په سکتور کمه او په نورو اقتصادي بنسټونو يې زياته کړی. ترکمنستان له همدې کبله د خپل ټولنيز او اقتصادي ملي پراختيايي پلان ( 2011- 2030) په بنسټ و پتيله چې د کسپين (خزر) سمندرگي (بحيره) او تور سمندرگي (بحيره) د يوه اقتصادي دهليز په واسطه سره ونښلوي او د ترانسپورت په بنسټونو يې زياته پانگونه کړې ده. له همدې کبله د خوښی ځای دی چې د لاجوردو د ترانزيتي او اقتصادی دهليز نښلول دې کسپين او توري بحيرې له دهليز سره نښلول د ترکمنستان د ملي ستراتيژی برخه هم ده او د افغانستان له ستراتيژيکو گټو سره هم سمون خوري. دا دهليز به ترکمنستان له قفقاذ سيمې سره وصل کړي او زيات اقتصادي او تجارتي فرصتونه به ورته برابر کړي.
په ټول کسپين سمندر گي کې د لاجوردو د سوداگريزې او ترانسپورتي لارې په سيمه کې د آذربايجان، گرجستان او ترکيې وصل له اروپا سره د دې لارې اهميت نور هم زياتوی او هم آذربايجان په جيوستراتيژيک لحاظ د سويلي قفقازپه نښلولو کې مهم رول لري. دا هم زموږ په گټه ده، ځکه چې هر څومره چې هېوادونه وتوانيږي چې خپلې ستراتيژيکې لارې او اقتصادی دهليزونه له زياتو هېوادونو سره وصل کړي په همغه کچه زيات به بريالي وي او له حريفانو به سيالي گټي. د مثال په توگه که چين او پاکستان غواړي چې د چين-پاکستان اقتصادی دهليز او د گوادر بندر تقويه کړي دا به يې په گټه وي چې زيات ملکونه يې د خپل تجارت لپاره وکاروي. خو همدارنگه، هند او ايران هم هڅه کوي چې د چابهار بيا داسي وکاروي چې زيات ملکونه سره وتړي.

### په سيمه کې د ورته دهليزونو د رامنځته کېدو سيالی هم شته:

لمړی، د ايران، اذربايجان او روسيې سره يکې د شمال – جنوب ترانسپورتي دهليز فکر او خبرې دي. دغه لاره چې له ځمکې او سمندر تيرېږي موخه يې د ايران، سويلي قفقاز او روسيې له لارې له اروپا سره د هند نښلول دي.
د لاجوردو اقتصادي دهليز د گورجستان له لارې له ترکيې سره وصل کيږي. گورجستان ترکيې ته د آذري تيلو او گازو د لېږد يوه لاره ده. دوهم، آذربايجان، گورجستان او ترکيه خپلو منځو کې د نښلولو په لارو چارو تمرکز کوي. په دې کې د سويلي قفقاز د گازو پايپ لاين، د باکو-تبيليسي سيهان د تيلو پايپلاين او باکو-تبليسي – کرس اوسپنې پټلی د اذربايجان، گورجستان او ترکيې لپاره د نوو اقتصادي فرصتونو لاره پرانستي. دغه پرمختگونه د سويلي قفقاز په سيمه کې د ترکيې پر روسيې د برلاسي کېدو او نفوذ بنودنه کوي. دغه هېواد د باکو-تبليسي کرس د رېل لارې ته مخکې له مخکې د وربښمو د نوې لارې نوم ورکړی چې دا له هغې خوښبينی سرچينه اخلي چې وبه کولای شي شمالي افريقا او په وچه کې ايساره مرکزي آسيا سره ونښلوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

ترکیه هم غواړي چې په سیمه کې د منځنۍ اسیا او ققفاذ سره اروپا د انرژۍ د لېږد دهلیز شي، ریل لارې او سړکونه یې یا رامنځته کړي او یا یې پلانوي. روسیه خو اوس هم د اروپایي تولنې د تیلو او ګازو ستر تأمینوونکی هېواد دی. خو غربي هېوادونه هڅه کوي چې په دې اړه په روسیه تکیه راکمه کړي. **نو غربي ملکونه هڅه کوي اروپا د نابوکو ګاز نل لیکې په څېر نوښتونو ملاتړ وکړي چې له کسپین او منځني ختیځ څخه اتریش او مرکزي اروپا ته ګاز لېږدولای شي او ترکیه هم د انرژۍ د لېږد په مرکز بدلولای شي. د اروپایانو ګټه به دا وي چې دوی به اړتیا نلري انرژي له یوه ملک څخه تر لاسه کړي او د یوه ملک لکه اوس د روسیې تر انحصار لاندې به نه وي او تل ورسره داسې چمونه وکړي لکه پاکستان چې له افغانستان سره کول.**

د پورته یاد شوي جیوپولیتیک وضعیت په پام کې نیولو سره لاجورد دهلیز د سیمې د یو شمېر هېوادونو له ملي ستراتېژیکو لومړیتوبونو او اقتصادي دهلیزونو سره اړخ لګوي. دغه اقتصادي دهلیز د غړو هېوادونو اقتصادي او سیاسي اړیکې هم نږدې کولای شي او په اوږدمهال کې د ترانز-کسپین د ګازو نل لیکې په څېر د نوښتونو عملي کېدو ته هم لاره هوارولای شي. په پای کې ویلای شو چې دا د زیاتېدونکي نښلوني او اقتصادي همکارۍ له لارې سیمه ییزه پراختیا تامینوي، د ګنو ملکونو ستراتېژیکې ګټې سره تړي، له سولې او ثبات سره مرسته کوي او هم دا په سیمه کې پر تولیز، اقتصادي او سیاسي پرمختګ هم مثبت اغېز ښندلای شي.

## افغانستان او سیمه ایزې ورته سیالۍ:

په ورته لوبو کې لوبغاړي یوازې غریب ملتونه او بې خبره چارواکی او دولتونه یې ډېر څه نشي کولای، بلکه قوي نړیوالو اړیکو، ستراتېژیکو نړیوالو قوی ملګرو، ملي ثبات، ښې حکومتولۍ، ستراتېژیک لرلید او سترو ملي مشرانو او فعالې ډیپلوماسۍ ته اړتیا وي چې مسئلې له سوچونو او پلانونو راوباسي او په عمل کې یې د حریفو ملکونو له خنډونو اچولو خوندي او د ملګرو ملکونو له ګټو سره یې همغږې کړي. دا د هر سیاستوال کار نه دی او په دې شطرنج لوبه کې یې ګاونډیان تېرباسي. نړیوال او زیات افغان کارپوهان په دې باور دي چې په افغانستان کې د نیابتي جنګونو یو اصلي لامل همدا دی چې موږ له ورته فرصتونو پاته او د ځان په ګټه لوبه ختمه کړي. له همدې کبله موږ د خو لسیزو په بهیر کې له دې سیالیو وروسته پاته شوو، له خپلو اوبو مو ګټه وا نه خیسته، لوېې لارې او اقتصادي دهلیزونه مو رامنځته نه کړل او په ګاونډیانو مو تړاو زیات شو.

یو وخت په مرکزي اسیا کې د امو سیند د اوبو په مدیریت یو نړیوال سیمینار رابلل شوی و، د افغانستان نماینده پکې نه و، یو ژورنالست له کوم چارواکي وپوښتل چې د افغانستان خاوره تر ۲۵ سلنې د امو سیند اوبه برابروي، د هغوی نماینده ولې نه دی رابلل شوی، هغه په خندا ورته ویلي و چې افغانان په خپلو منځونو کې په شخړو بوخت دي او داسې غونډو ته نه وخت لري او نه یې وړتیا لري نو موږ ملامت نه یو.

له همدې کبله زموږ ګاونډي حریص هېوادونه په تېره پاکستان او ایران تل زموږ وړتیا لرونکی مشران له پښو غورځوي او خنډونه ورته راپورته کوي. خو ماشا الله افغانستان په دې وروستیو کې په دې اړه ښې بریاوې درلودې، که له منځنۍ اسیا تر سویلي اسیا د کاسا ۱۰۰۰ برېښنایي مزي دی، که له ترکمنستانه تر پاکستانه د برېښنایي مزي غزول دي، که د افغانستان له لارې له ترکمنستانه تر پاکستان او هند پورې د تاپي په نامه د غازو نل لیکه ده، یا د لاجوردو د ترانزیتي او اقتصادي دهلیز له لارې تر اروپا او ازادو نړیوالو اوبو پورې د هېواد تړل دي، که د چابهار بندر له لارې له هند او نورې سویلي اسیا او منځني ختیځ سره د هېواد وصل دی، او که د چین هېواد په نوښت او لګښت د یوې حلقې او یوه سړک سره زموږ د هېواد د سړکونو او ریل لارو په مرسته ممکنه وصل دی، افغانستان په سیمه کې د نورې فایبر د راکړې ورکړې مرکزیت کېدل او نور زموږ سترې لاسته راوړنې دي. خو باید یوه شو چې دا د پټې سر دی او پټې کښته سورور دی. ورته لوبې او سیالۍ لاختمې نه بلکه نور زور یې هم اخیستی او موږ باید ورته ځان تیار کړو.

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ